# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com www.afgazad.com

| سیاسی | Political |
|---|---|



لیکوال: شریف بهاند

۰۳ می ۲۰۱۱

## د پوځي اډو د جوړولو اړتیا او د هغو موخې
## ۳

۳ ـ د متحدو ایالتونو پوځي قومنداني او د هغو موخې:

د همدې لیکنې په دوهمه برخه کې یادونه وشوه، چې متحدو ایالتونو نړۍ په شپږو سیمه ییزو پوځي زونونو ویشلې ده. د دغه هیواد د ملي امنیت په ستراتیژۍ NSS کې هم په همدې باب راغلي:"د تاریخ په بهیر کې د لومړي ځل لپاره د نړۍ هیڅ یوه برخه، ان په سویلي قطب کې هم نشته، چې د پنتاګون د سیمه ییزې قومانداني تر قومندې لاندې نه وي. همدا واقعیت د دې ښکارندوی دی، چې واشنګټن له سرې جګړې وروسته، ځان د نړۍ د یوازیني پاتې شوی ځواک په توګه ګڼي"[۱]. دا شپږ قومانداني په لاندې ډول دي:

ـ د اروپا لپاره د متحدو ایالتونو پوځي قومنداني EUCOM ؛

ـ د امریکا د وچې د شمالي سیمې لپاره د متحدو ایالتونو قومنداني NORTHCOM ؛

ـ د مکسیکو په شمول د لاتیني امریکا لپاره سویلي هغه SOUTHCOM ؛

ـ د ارام سمندر لپاره د پنتاګون قومنداني PACOM ؛

ـ د منځني اسیا او منځني ختیځ لپاره د متحدو ایالتونو قومنداني CENTCOM؛

ـ د افریقا لپاره د متحدو ایالتونو قومنداني AFRICOM [۲].

**EUCOM –** یوه جګړه ییزه پوځي قومنداني ده او هغې ته د ټولې اروپا، د افریقا د زیاتې او د منځني ختیځ د یوې برخې مسؤلیت ور په غاړه دی. یا په بله وینا دغه قومنداني له ۹۰ څخه د زیاتو هیوادونو اوسیمو پوځي چارې پر مخ بیایي او دغه سیمې د ناروی له نورد کپ Nordkap څخه پیل بیا تر شمالي سمندر پورې، د مدیترانې د سمندرګي شأ و خوا سیمې، د منځني ختیځ یوه برخه بیا د سویلي افریقا د هیواد تر کپ Kap سیمې پورې، دي؛

**NORTHCOM –** دغه پوځي زون ته نه یوازې هوایي، ځمکني او سمندري ځواکونه، بلکې په خپله د متحدو ایالتونو، الاسکا Alaska، کانادا، مکسیکو د سیمو مسؤلیت هم ور په برخه دی؛

ـ د **SOUTHCOM** د مسؤليت يي سيمه څه نا څه ۳۰ هيوادونو دي، چي په هغو کي ۱۹ هيوادونه په مرکزي او لاتيني امريکا او پاتي هغه د کارابيک په سيمه کي دي؛

ـ **PACOM** دغه زون ته د ارام سمندر د شأ و خوا هيوادونو او شلو هغو سيمو او ټاپوګانو، چي د متحدو ايالتونو ترکنترول لاندې دي او همدارنګه د چين، روسيه، هند ... او داسي نورو سيمو او هيوادونو مسوليت ور په غاړه دی؛

ـ د **CENTCOM** قومندانی د ۲۷ هيوادونو، لکه د شمال ـ ختيځي افريقا، سويل لويديزې او منځني اسيا او همدارنګه د هند په سمندر کي د زېشيلن Seychellen ټاپوګانو د قومندي دنده په غاړه لري [۳].

له دغي پوځي پراختيا څخه لکه څنګه چي د همدې ليکني په لومړۍ برخه يادونه وشوه، د متحدو ايالتونو بنسټيزې موخي د طبيعي توکو پر زيرمو کنترول، د سيمه ييزو سيالانو کلابندي (محاصره) او د نوو نړيوالو هغو له رامنځته کيدو څخه مخنيوي دی. په همدې باب د متحدو ايالتونو د "دفاعي طرحي [په] لارښود" Defence Planning Guidance کي، په روښانه توګه راغلي: "نور ملتونه او احتمالي ټلوالي شته دي، چي کيدای شي، په اوږد مهاله توګه خپل پوځي ځواک ته پراختيا او د ستراتيژيکو موخو په پلي کولو سره، په سيمه ييز او نړيوال ځواک بدل شي. موږ بايد خپله ستراتيژي اوس دي ته متمرکزه کړو، چي د دا ډول احتمالي سيالانو له رامنځته کيدو څخه مخنيوي وکړو" [۴]. په همدې موخه متحدو ايالتونو او د اروپايي ټولني سترو اقتصادي ـ پوځي ځواکونو پريکړه وکړه، چي د ختيزې اروپا په تيره د پخواني سيال پوځي سازمان غړي د شمالی اتلانتيک د پوځي سازمان، ناټو په غړيتوب ومني. همدا لامَل و، چي په کال ۱۹۹۹ کي، د پولند، چک او هنګری هيوادونه د سازمان په غړيتوب ومنل شول. له دغو هيوادو وروسته په کال ۲۰۰۴ کي بلغاريا، بالتيک هيوادونو، رومانيا، د سلواک جمهوريت او سلوانيا او همدارنګه په کال ۲۰۰۹ کي کرويشيا او البانيا د ناټو غړيتوب ترلاسه او ورسره جوخت د غړو شمېر يي ۲۸ هيوادونو ته ورسيد. سربيره پر دي د ګرجستان او اوکراين دولتونه هم وهڅول شول، چي د ناټو د پوځي سازمان غړيتوب ترلاسه کړي. په دې توګه ناټو د روسيي د فدراسيون تر پولو پورې خپل اغيز ته پراختيا او د دغه هيواد د محاصرې کړۍ يي د شمال او لويديځ له لوري بشپړه کړه. اوس بايد ناټو په دې هاند و هڅه کي شي، چي دغه هيواد د سويل له خوا هم تر خپلي محاصرې لاندې او که شوني شي، ان هغه ټوټي ټوټي کړي. د متحدو ايالتونو دغي بنسټيزې ستراتيژی ته په نغوتي سره، د دغه هيواد پخواني ولسمشر مرستيال، ديک چينی Dick Cheney وايي: " ... موفقيت نهايی را واشنګتن زمانی بدست خواهند آورد، که کنترول منابع نفتی روسيه را بدست ګيرد. اما اتازونی نظر به دلايل قابل درک سياسی ـ نظامی، اين نظر خويش را به صورت آشکار اظهار نموده نمی تواند، ... که از زمان فروپاشی اتحاد جماهير شوروی در سال ۱۹۹۱ پارچه پارچه نمودن و يا انهدام و نابودی روسيه و کنترول واقعی منابع نفت و ګاز آن، يکی از "اهداف اساسی" ستراتيژی واشنګتن است" [۵]. د ديک چينی په اند دغه سياسي ـ پوځي لامَلونه: " ... خرس [قطبی] روسيه هنوز هم دارای پوتنسيال عالی نظامی و دارنده ای دندان اتمی است" [۶].

په لنډه توګه ويلي شو، چي واشنګټن پر برلاسی سربيره د طبيعي اومه توکو د زيرمو په تيره بيا پر هايدرو کاربني هغو کنترول، چي هغه د خپلي اقتصادي غوړيدا (رونق) لپاره مهم بولي، د ټول وژنو وسلو له پراختيا مخنيوي، د ناځرګند ځواک (ترهګری) په وړاندي مبارزه، د نړيوالېدو پراختيا او په تيره د نوي ليبراليزم هر اړخيز پلي کول د خپل بهرني ـ پوځي دکترين بنسټيزې ستني بولي. د شمالي اتلانتيک د بلي غاړې ستر ځواک، اروپايي ټولني ان نوی ليبراليزم د ايډيالوژۍ په توګه د خپل اساسی قانون بنسټ او د هغي پلي کول د ټولني د بهرني سياست کړنلاره

ګڼي. له همدې امله د تولنې غړو هیوادونو ژمنه کړې، خپله پوځې ځواکمنتیا په پر له پسې توګه غښتلې کړې، چې وکولې شې د نړۍ په هره برخه کې پوځې عملیات تر سره کړې شې. دغه پوځې عملیات باید هغه وخت تر سره شې، چې د اروپایې تولنې امنیتې ستراتیژۍ له ګواښونو سره مخامخ وي. د اروپایې ستراتیژیستانو په اند، دغه تولنه له نوو بیلابیلو ګواښونو سره، چې نه د اتکل وړ او همدارنګه ناڅرګند هم دي، لاس او ګریوان ده. دا بنستیز ګواښونه د انرژۍ د سمبالښت په وړاندې د خنډونو ترځنګ، ترهګري، د اتومې وسلو پراختیا، سیمه ییز کړکیچونه، مفسد او د قانون پر بنسټ نه ولاړ دولتونه او سازمانې جنایې کړه وړه دي[۷]. " له همدې امله موږ باید چمتو اوسو، د کړکیچ او ګواښ له رامنځته کیدو مخکې کړه وړه تر سره کړو ... کړکیچونو او ګواښونو ته باید مخکې له مخکې تسلیم نه شو" [۸]. اړینه بریښي، چې دا ویرسونه د هغه د رامنځته کیدو په ځای او ان د هغه په زړۍ کې له منځه یووړل شي.

له پورتنې ارزونې دا پایله ترلاسه کیږي، چې د شمالي اتلانتیک د دواړو غاړو سترو ځواکونو، متحدو ایالتونو او اروپایې تولنې د امنیتې ستراتیژیو تر منځ څه نا څه هیڅ توپیر نه تر سترګو کیږي. دغو ځواکونو ځانته ګډ چلنچونه، ناڅرګند دښمن او ګواښونه رامنځته کړې دي، چې د هغو په پلمه د نړۍ په هره برخه کې د خپلو ستراتیژیکو ګټو د ترلاسه کولو په موخه  پوځې لاسوهنه وکړې شي. تجربو ثابته کړې، چې دوی دغه پوځې لاسوهنې تر ډیره ځایه په ګډه ترسره کړې، خو که د ملی امنیت د ګټو پر سر د دوی ترمنځ د نظر یووالی نه وی، نو ان په یوازې توګه عمل ترسره کوي. په دې اړه د متحدو ایالتونو پخوانی ولسمشر، بیل کلینتن په ۱۹۹۴ کال کې د ملګرو ملتونو عمومي اسامبلې ته په خپله وینا کې ویلی و: " که چیرې زموږ د ملی امنیت ګټې له ګواښ سره مخامخ وي، نو که وکولې شو، له نورو سره به په ګډه عمل وکړو، خو که اړ شو، ان په یوازې توګه به هم دا کار تر سره کړو، موږ به له دیموکراسی څخه هم کار واخلو، خو که اړ شو، له زور زیاتې څخه هم"[۹]. بنایې د لویدیزې نړۍ په ځانګړې توګه د ناتو د پوځې ترون مهم غړي هیوادونه داسی وښیي، چې د دوی تر منځ د ځینو ارزښتونو، د بیلګې په توګه ولسواکي او ګډ کلتور، د بشر د ربښتو د ساتنې او داسی نورو ...، پربنسټ د نظر یووالي شته ، خو که د ملی ګټو او وياړ پوښتنه رامنځته شي، بیا د ناتو د غړو هیوادونو د نظر په دغه یووالي کې په ښکاره توګه توپیرونه تر سترګو کیږي. په دې باب توبیاس فلوګرTobias Pflüger لیکي: "که په راتلونکې وخت کې پوځې لاسوهنې تر سره کیږي او د متحدو ایالتونو حکومت یا له هغو سره مینه او یا هم د دوی د ګټو پر بنسټ نه وي، نو بنایې د اروپایې تولنې پوځې ځواکونه هغه په یوازې توګه تر سره کړي. دا په خپله د متحدو ایالتونو او اروپایې تولنې ترمنځ د سیالی په مانا ده"[۱۰]. روښانه ده چې شتمنې او د وياړ غریزه انسانان سیالی ته رابولې، چې پایله یې د دوی تر منځ د ځواک د ترلاسه کولو لپاره د یو بل پر له پسې مبارزې پیل دی، څو نور په مستقیمه او یا غیر مستقیمه توګه تر خپل نیواک او ولکې لاندې راولي. د ناتو غړو هیوادونو، په تیره متحدو ایالتونو هم هر چیرې چې پوځې لاسوهنې کړې په تر ولکې لاندې هیواد یا سیمه کې یې د ځانګړو موخو لپاره په دغې یا هغې پلمې سترې یا وړې تینګې پوځې اډې جوړې کړې دي.  په تیره "وړې پوځې اډې ډیر لږ پرسونل په واک کې لري. خو که دوی ته اړتیا پیدا شي، دغه پرغلیز ځانګړې ځواکونه د چټکې پراختیا لپاره په پوره اندازه ځواکمنتیا لري. د همدې لامَل پر بنسټ د دا ډول اډو لپاره په تیره بندرونه او هوایې ډګرونه ترټولو مناسب ځای ګڼل کیږي" [۱۱]. سربیره پر دې دغه وړې پوځې اډې ډیره پرمختللی مالوماتې تکنالوژۍ او ترټولو پرمختللې وسلې په واک کې لري، چې د لویدیزې نړۍ له ستراتیژیکو ګټو دفاع او تر هر څه دمخه د نړیوالېدو او نوې لیبرالیزم په وړاندې د نوو رامنځته کیدونکو خنډونو او ګواښونو سره مبارزې ته چمتو وي. دا په خپله د دې

ښکارندوي دی، چې په تیره د متحدو ایالتونو د پوځونو د ځای په ځای کولو موخه له تیرو هغو څخه زیات توپیر لري. " د همدې لامَل پر بنسټ د پوځي اډو موخه په بنسټیزه توګه بدلون مومي. د دوی دنده له دې وروسته د کوربه هیواد دفاع او ساتنه نه، بلکې له دغو ځایونو څخه پر دریېم هیواد د پوځي یرغل لپاره د تختې خیز په توګه ګټه ترلاسه کول دي" [۱۲]. دا چې پوځي اډې د پورتنیو دندو ترڅنګ نورې کومې هغه لري، هغو ته جوزف ګرسون Joseph Gerson په لاندې ډول نغوته کړې ده.

**۴ ــ د پوځي اډو دندې:**

د جوزف ګرسون په اند، پوځي اډې د ستراتیژیکو ګټو د ترلاسه کولو په موخه جوړې او ترټولو مهمې دندې یې په لاندې ډول دي:

۱ ــ د اوسني وضعیت تضمین: پوځي اډې باید د ګواښ او وېرولو له لارې ترلاسه شوی اوسنی وضعیت تضمین کړي. د بیلګې په توګه په سویلی کوریا کې د متحدو ایالتونو د پوځي اډو دنده ګواښول دي. په داسې حال کې چې په منځني ختیځ کې د دغه هیواد د پوځي اډو د جوړولو موخه وېره ول او په دې توګه د سیمې د تیلو پر طبیعي زیرمو د کنټرول تضمین او د هغو د رااېستلو امتیاز ترلاسه کول دي؛

۲ ــ د سیال او دښمن هیواد (و) محاصره کول: د سړې جګړې په ترڅ کې د پنټاګون د پوځي اډو بنسټیزه موخه د شوروی اتحاد او د چین د ولسي جمهوریت محاصره کول و. د پوځي اډو دغه دنده د چین په اړه لا تراوسه هم دوام لري. دغه رول او دنده په سویلي کوریا، جاپان، فلیپین، استرالیا، پاکستان، د ډیګوګارسیا په ټاپو Diego Garcia او په منځني اسیا کې د شوروی اتحاد په پخوانیو جمهوریتونو کې د متحدو ایالتونو پوځي اډو ته ور په غاړه دی؛

۳ ــ د هوایي او سمندري جګړه ییزو بېړیو ملاتړ او د هغو غښتلتیا: دغه دندې په تیره د جاپان په اوکیناواOkinawa او توکیو ته څیرمه په یوکوسوکا Yokosuka کې جوړې شوې اډې تر سره کوي. سربېره پر دې په فلیپین، تایلند، سینګاپور او نورو ډیرو هیوادونو کې هم دا ډول اډې د همدې موخې لپاره جوړې شوې، چې د متحدو ایالتونو د سمندري پوځ د بېړیو، د جګړه ییزو الوتکو لیږدونکې، په اتومي وسلو سمبال اوبتلونه ... او داسې نورو پوځي بېړیو ملاتړ وکړي.

۴ ــ د متحدو ایالتونو د پوځي ځواک د پرسونل روزنه او تمرین: د پوځیانو پر روزنې او تمرین سربېره له دغو اډو څخه پر نورو هیوادونو د تیري او یرغل لپاره هم ګټه اخیستل کېږي. دا ډول اډې د جاپان په اوکیناوا Okinawa ، فلیپین، سویلي کوریا، اسپانیې، ایتالیا، هوندوراس Honduras ، المان، د ختیزې اروپا نوې جوړې شوې هغه او کویت کې دي. ښایي په عراق کې هم د همدې موخې لپاره پوځي اډې جوړې شوې وي.

۵ ــ د پوځي څارګریو لپاره د شونتیاوو برابرول: د دغو پوځي اډو دندې قومنده، کنټرول، د اړیکو ټینګول، په څارګرې چارو او اتومي جګړه کې د مهمو دندو تر سره کول او همدارنګه له فضایي څارګرې څخه ګټه اخیستل او د جګړې لاربښونه ده، چې ښې بیلګې یې د افغانستان او عراق جګړې دي. دغه دندې د متحدو ایالتونو اډې په اوکیناوا Okinawa ، قطر او استرالیا کې تر سره کوي.

۶ ــ د حکومتونو کنټرول: متحده ایالتونه د خپلو پوځي اډو له لارې د پوځي اډو منونکي (کوربه) هیوادونه کنټرولوي. د تر کنټرول لاندې حکومتونو په لیست کې تر ټولو دمخه جاپان، کوریا، المان، سعودي عربستان، عراق او افغانستان شامل دي [۱۳].

له پورتنی ارزوني دا پایله ترلاسه کېږي، چې متحدو ایالتونو د سرې جګړې په پړاو کې پوځي اډې د شوروی اتحاد د اغیز د مخنیوي په موخه جوړې کړې وې، خو اوسمهال واشنګټن هغه د خپلو جیوستراتیژیکو، جیواکونومیکو موخو او همدارنګه د ترلاسه شوې برترۍ د ساتنې لپاره جوړوي. نو ځکه پر هر هیواد له پوځي یرغل څخه وروسته، پنتاګون سمدلاسه هلته د پوځي اډو د جوړولو په لټه کې شي. ښې بیلګې یې د نورو تر څنګ د عراق او افغانستان دولتونه دي. واشنګټن پر افغانستان له پوځي یرغل څخه وروسته د سلګونو ملیونونو ډالرو په لګښت په سویل، شمال او لویدیځ کې ستري هوایي اډې جوړې کړې دي. بنستیزه پوښتنه دا ده، چې متحده ایالتونه په سیمه کې د کومو موخو لپاره پوځي اډې جوړوي؟ ایا په ریښتیا هم د هغو دندې په افغانستان کې د امنیت ټینګښت او د ګاونډیو هیوادونو د لاسوهنو مخنیوی دی؟ او که نورې هغه دي؟

نور بیا

اخځایونه:


١- Wagner, Jürgen: Das US-amerikanische Imperium im Zeitalter der Globalisierung, S. ٤١, sehen in: C. Haydt / T. Pflüger / J. Wagner: Globalisierung und Krieg, Hamburg, ٢٠٠٣
٢- Schmid, Fred/ Schreer: Nato, Rüstung, Krieg, Grafik-Report isw, Nr. ١٢, München, ٢٠٠٩, S. ٢٢
٣- Vgl.: Richter, Hans-Peter: Weltweites Netz von Militärstützpunkten garantiert ständigen Krieg, sehen in: http://www.deutscher-friedensrat.de/pdf/MBweltweit.pdf
٤- Wagner, Jürgen: Das US-amerikanische Imperium im Zeitalter der Globalisierung, S. ٤٠, in: C. Haydt / T. Pflüger / J. Wagner: Globalisierung und Krieg, Hamburg, ٢٠٠٣
٥ ـ شریف بهاند: **عدم مهارت در جنگ بیفرجام، خپریدو ته چمتو**
٦ ـ **هماغه اثر**
٧- Alexander Skiba: Die Nationale Sicherheitsstrategie der USA und die Europäische Sicherheitsstrategie im Vergleich, sehen in: http://www.sicherheitspolitik.de/uploads/media/wus_٠٣_٢٠٠٤_WuS_sonderband_٣_skiba.pdf
٨- Wagner, Jürgen: Neoliberale Geopolitik Transatlantische Konzepte einer militärischen Absicherung der Globalisierung, sehen in: http://www.ippnw.de/commonFiles/pdfs/Frieden/Juergen_Wagner.pdf
٩ ـ شریف بهاند: دریمه زرېزه: د امریکا متحده ایالتونه، ناتو او نړیوال نظم ، وګورئ په
١٠- Pflüger, Tobias: Die Europäische Union als Akteur der globalen Kriegspolitik, S. ٧٥, sehen in: C. Haydt / T. Pflüger / J. Wagner: Globalisierung und Krieg, Hamburg, ٢٠٠٣
١١- Wagner, Jürgen: Neoliberale Geopolitik Transatlantische Konzepte einer militärischen Absicherung der Globalisierung, sehen in: http://www.ippnw.de/commonFiles/pdfs/Frieden/Juergen_Wagner.pdf
١٢- Ebenda
١٣- Richter, Hans-Peter: Von deutschem Boden geht jeden Tag Krieg aus. Die Funktion der ausländischen Militärstützpunkte, sehen in: http://www.deutscher-friedensrat.de/pdf/FremdeBaseniD(٢).pdf